د تـــقدير لـــــوبـــه 💝💝💝

ليکواله: فصيحه آصف خان
ترتيب:اسد الخراسانی
راضيه د هينداري  مخ ته ولاړه وه او ځان ته به يې له بېلابېلو زاويو څخه کتل. يو وار به يې د اوږدو وېښتانو چوټي يوې او بيا بلي خوا ته واړاوه. اوږده اوږده تور باڼوګان، غټې غټې توري بادامي سترګي، جګه نرۍ پزه، جګه ونه او ګلاب څواني به يې په ګلابي رنګ کاليو کې نوره هم ګلاب ګلاب ښکاره سوه.
د راضيې  کشري خور نادیې چې به هغه  هينداري ته ولاړه وليده، نو خندا به ورغله، ويل راضيې  بس دی نور په هينداره کي ځان مه ګوره، بيخي سترې سوې، اخير به لېونۍ سې.  راضيه به په قهر سوه،  ويل په هينداره کي زه ګورم او زه به سترې کېږم، ته څه مشکل لرې ؟ نادیې ويل چي زه هيڅ مشکل نه لرم، خو وېرېږم چې يوه ورځ به لېونۍ سې او له هينداري سره به خبري کوې.
1

Last modified: 9:21 pm

راضیې  به په خندا ورته وویل: لېونۍ ته په څه پوهېږې، زه چي هر وار  ځان په هینداره کي ګورم، نو په خپل مخ کي نوې ښکلا وینم او دا ښکلا زما خوبونه پیاوړي کوي. د دې خبري په اورېدو به نادیې یو سوړ اسوېلی و ایست او په ناهیلۍ به یې وویل: ای زما ساده خورکۍ!  په ویښه خوبونه مه وینه. د ویښي خوبونه نه رښتیا کېږي. خو راضیې  به ویل چې ما د خپلو خوبونو تعبیر ایستلی دی، زه پر خپلو خوبونو پوره باور لرم، دا دی و به یې ګورې، زما خوبونه به خامخا رښتیا کېږي.
د راضیې  پلار  په یوه دولتي  اداره کي عادي مامور  او مور یې د کور مېرمن وه. کورنی اقتصاد یې چندان ښه نه و، بس ګوزاره یې کېدله. راضیې له خپلي کمبلي سره سمي پښې نه غځولې او نه یې  خپل ژوند او کورني اقتصاد ته  کتله، بس تل به یې په ویښه خوب لیده چي یو شاهزاده به پر آس سپور راځي او دا به له ځان سره د بخت کور ته بیایي.
په دې ورځو کي د راضیې د عمه  واده و. مور یې دا هم له ځان سره بازار  ته بوتله چې د ښادۍ لپاره په خپله خوښه کالي رانیسي. په دې دوکان کي یوې بلي ښځي هم  سودا رانیوله. کله چي یې پر راضیې سترګي ولګېدې، نو کرار کرار یې خواته راغله،  خوږ خوږ یې ورته وکتل او بیا یې د راضیې له مور سره  روغبړ وکړ، تر لږ مجلس وروسته یې یو د بل د کور ادرسونه هم سره واخیستل او رخصت سول.



Last modified: 9:22 pm

ځو ورځي وروسته د راضيې دوی د کور مخ ته يو ډېر قيمتي موټر ودرېد. له موټر څخه هغه ښځه راکښته سوه چي ځو ورځي دمخه يې له راضيې دوی سره په بازار کي ليدلي وه. يوه بله ښځه چي په سرو زرو کي له سر څخه تر نوکه پوري بار وه هم راکښته سوله. ښځه روبينه نومېده او ويل چي بله ښځه يې خور ده. روبينې يو ګړی وروووسته وويل: يو شاهزاده او ګلالی زوی لرم چي سکندر نومېږي، شکر خدای هر څه راکړي دي، خو په کور کي د يوې مېږور کمی دی بس، که ستا لور راضيه زما سکندر ته راکړې، نو دا ارمان به مي هم پوره سي.د راضيې مور حيرانه سوه چي دې شتمني ښځي د دوی غريبانه کور هم وليد، خو بيا هم غواړي چي د دې لور خپل زوی ته وغواړي. په دې پسي د سکندر مور ځو واره نوره هم په مرکه راغله ، ويل ستاسي سره مي دوستي زړه غواړي. که څه هم د ناديې مور زړه نازړه وه، خو د راضيې د پلار خوښه وه او راضيه هم خوشاله وه، هغه و چي د راضيه دسمال يې ورکړ.په دې وخت کي راضيه له خوشاليه په کالو کي نه ځايېده. خوشالي يې نه سوای پټولای، په نخرو نخرو خپلي خوني ته ولاړه او هينداري ته ودرېده. دا وار يې له ځان سره يوه نری سندره هم زمزمله کوله. خور يې خوني ته پسي ورغله. راضيه موسکی سوه، په داسي حال کي چي په يوه لاس يې خپل اوږده ويښتان يوې خوا ته اړول ناديې ته وويل: خورکۍ ښنګه ودي ليده چي زما باور سم وخوت؟ ما خو درته ويلي وه چي زه پر خپلو خوبونو باور لرم، دا دی اوس خو دي زړه ته ولوېده چي په ويښه خوبونه هم رښتيا کېږي، اوس به زما د خوبونو شاهزاده راځي او ما به خپل کور ته بيايي.ځو ورځي وروسته روبينې خاله د سکندر يو يادګاري عکس راضيې دوی ته راواستاوه. سکندر رښتيا هم لکه شاهزاده ګلالی و، بس لکه راضيې چي غوښت،هماغسي ښايسته هلک و. اوس نو راضيې يو بل مصروفيت پيدا کړ، ټوله ورځ به يې يا د سکندر له عکس سره خبري کولې او يا به يې په هينداره کي ځان ته کتل.دوی مياشتي وروسته د راضيې او سکندر واده په ډېر ډول او درازه سره تېر سو

د سکندر کور به نو څه و چې سمه مانۍ وه. په دې .
ښکلي کور کې راضیه او سکندر ربښتیا هم چې د شاهزاده
ګانو غوندي ښکارېدل، دا کټ مټ هغه مانۍ وه چې راضیې
په خوبونو کې لیدلې وه او سکندر هم هماغه شاهزاده و
چې دې غوښت. د راضیه د سکندر له کور سره ډېر ژر عادي
سوه. دا چې د مېړه په کور کې ډېره خوشاله وه، نو د مور
کره به هم ډېره نه تلل. روبینې خاله به د خپلې مېرور هر
ناز او هره خبره منله او سکندر خو به د راضیې د سترګو په
اشارو د هغې هره غوښتنه پر ځای کوله. د واده دوې
میاشتي تېري سوي وې، خو راضیې هیڅ کار ته ګوتي نه وې
وروړي، ځکه چې ضرورت یې نه و، د کور ټول کارونه
مزدورانو کول. راضیه ډېره خوشاله وه، سهار او ماښام به
یې نوي نوي کالي اغوستل او ځان ته به یې د سینګار ډول
ډول توکي رانیول، فکر یې کاوه چې د نړۍ ټوله نېکمرغي د
دې په برخه سوې ده.هر څه سم روان وه، خو راضیې
ناڅاپه د سکندر په سترګو کې یو ډول ناهیلي او پټ غم
احساس کړ، دا هغه څه و چې راضیه یې له ژور خوب څخه
راویښه کړه. یوه شپه ناوخته سکندر د سر له درد څخه په
تکلیف سو او چیغو یې ټول کور پر سر واخیست. ورسره
سم ټول کور په ویر ولړل سو. سکندر یې روغتون ته یووړ
او سهار یې په کټ کې بې سده کورته راوړ. لکه د کلونو
ناروغه چې وي، د مخ پوست یې وچ کلک سوی او تک ژیړ
اوښتی و. کله چې به په سد کې راغی، نو د سر له درد
څخه به یې چیغې کړې او ورسره به یې خواګرځی هم
شروع سو، نیم ساعت به همداسي و چې بیا به بې سده
سو.د راضیې زړه مات سو او ورځ په ورځ ناهیلې کېده.
اوس یې په اوونیو اوونیو کالي نه بدلول، نه به هینداري ته
درېده او نه به یې ځان سینګاراوه. هر څومره چې د سکندر
ناروغي اوږدېدله د راضیې اندېښنې هم ورسره ډېرېدلې.
هره ورځ به یې داسي احساس کاوه لکه د خطر زنګ چې
یې په غوږو کې ازانګې کوي. روبینې خاله به د راضیې په
مخ کې ځان زړور ښوده، .

خو له خبرې یې داسي ښکاریده لکه ټوله شپه چې یې ژړلي وي.د روبینې خاله پټي ژړا راضیې ته شک ورواچاوه. یوه ورځیې په چیغو چیغو ځان د روبینې غېږې ته ورواچاوه، ویل مورې د خدای پر پار ماته ولي نه وایې؟ په سکندر څه سوي دي؟ولي داسي نابېره ناروغه سو؟ روبینې خاله که څه هم نه غوښتل راضیې ته رښتیا ووایي، خو راضیې مجبوره کړه چې هر څه سپین ورته ووایي. ویل زویه زه او ته دواړي بدمرغې سوو. سکندر د سرطان ناروغي لري او ډاکټران وایي چې د یو څو شپو مېلمه دی. بس لوري لوی خدای ته په صبر کوو، بله چاره نه لرو د دې خبري په اورېدو د راضیې پر سترګو توره تیاره راغله، په یوه شیبه کي هر څه بدل سول، له اسمان څخه ځمکې ته راکښته سوه. په دې وخت کي یې د خپلي کشري خور نادیې خبري په غوږ کي ازانګه وکړه چي ویل به یې: (( ای زما ساده خورکۍ!په ویښه خوبونه مه وینه، د ویښي خوبونه نه رښتیا کېږي)) په دې وخت کي د راضیې ژړا له روبینې سره یو ځای سوه او کور یې پر سر واخیست. روبینې خاله د خپل زوی او راضیې د خپل تور بخت له غمه ژړل. راضیې په چیغو چیغو وپوښتل: روبینې خاله تا ولي زما له ژوند سره داسي لوبه وکړه؟ راته ووایه ولي دي داسې وکړه؟ ستا د زوی د ژوند شپې او ورځي خو هسي هم په شمار وې، خو زما ژوند دي ولي ورسره خاوري کړ؟ روبینی خاله په ژړا ورغبرګه کړه: دا د یوې مور بې وسي وه چې د خپل زوی اخیري هیله ورپوره کړي. ما د لومړي ځل لپاره خپل زوی تر واده وروسته خوشاله ولید، لوري ما وبخښه. یوې خواته د راضیې په وجود کې د ژوند هیلو اخیري سلګۍ وهلې او بلې خوا ته د سکندر د ژوند اخیري سلګۍ وې، خو لږ شیبه وروسته د سکندر وجود د تل لپاره ارام سو، خو راضیه یې د تل لپاره په ویر کي پرېښووله
مننه چې ټول داستان مو په مینه اوحوصله ولوستلو.ځار شم 💝💝💝💝